# سرفراز خان

نېک محمد

سرفراز خان د دیر د ضلعې تالاش، سرائي کلي د زوړ خدائي خدمتګار سرائي خان ورور ؤ، دے په 7 دسمبر 1991 کښې وفات شوے دے، د دهٔ د دعا دپاره په دېرشمه جنورۍ ۱۹۹۱ محترم اجمل خټک صېب ورغلے ؤ. اجمل صېب د هغهٔ په یاد کښې درې څلور داسې قطعې لیکلې دي چې د هغهٔ د کار عمل او جدوجهد پته ترې لګي. نېک محمد په دغه کاغذ دا څو کرښې نوټ هم لیکلے دے، هغه لیکي چې: "زمونږ بابا د اجمل خټک د ننګ د لارې، د ستر بابا باچا خان د قافلې ملګرے او د مینې یار ؤ، دا یو څو شعرونه خټک صېب د هغهٔ د مرګ د غږ اورېدو سره او بیا د هغهٔ قبر ته د ودرېدو سره د هغهٔ ملي او تاریخي تاثرات دي. زهٔ ئې د دې مشرانو د تعلق او پښتني هوډ د یاد دپاره لیکل ضروري ګڼم".

نېک محمد دغه لیکلے کاغذ چې تر ما راورسولو نو ماته هم په نولس سوه یو کم اویایم کښې زمونږ د دیر دوره رایاده شوه، په دغه دوره کښې ولي خان، اجمل خټک صېب، ارباب سکندر خان، امیرزاده خان، محمد افضل خان، زهٔ او د سخاکوټ راحت خان بابا او د دیر ټول مشران چې پکښې د ضلع دیر د نېشنل عوامي پارټۍ صدر میزے خان هم ؤ، شامل وو. وړومبۍ شپه په اوچ کښې مونږ د ظاهرشاه خان سره کړې وه او وړومبے پړاؤ مو د سرائي خان دوي په کلي کښې چې د سرفراز خان مشر ورور ؤ اچولے ؤ. ماته سره د ولي خان او د دغو ټولو خدائي خدمتګارو خبرې د سرائي خان په حجره کښې د دې کاغذ په لیدو نېغې ودرېدې.

دغه شعرونه مونږ د "پښتون" په صفحو د دې دپاره خورو چې دا د تاریخ د یوې برخې په نوم محفوظ هم شي.

د پښتو د قامولۍ د باغ یو ګل ؤ
د تاریخ د لوئے بابا د بڼ بلبل ؤ
توري خاورې چرې خړ درځني نهٔ شي
سرفراز د غېرتونو د مورچل ؤ

---

یاد د وطن د مینې لار کښې په غېرت سرفراز
نهٔ مري د مرګ په چغه دا د ننګ او پت سرفراز
دلته ئې هر مجلس کښې خلهٔ وه د مُسکا نه ډکه
هلته به خاندي په غنچو کښې د جنت سرفراز

---

د سرفراز خان په یاد

د پښتو پت ؤ، د قام مینه، زمونږ یار سرفراز
خان د خانانو ؤ، خدائي خدمتګار سرفراز
خاورې د مینې دغه ګل کهٔ په جنت حواله
چې ؤ په خوئي او په خصلت ګل ګلزار سرفراز

---

د پښتو، مینې، پت او ننګ یو غوړېدلے ګل ؤ
د خوږې ژبې ښهٔ خصلت یو خندېدلے ګل ؤ
چې هم یو سر ؤ، هم فراز ؤ او هم خان د پښتو
جوړ د جنت د باغیچې ځنې راغلے ګل ؤ